**حزب التحریر - ولایه افغانستان ټول اسلامي امت ته د نېکمرغه فطر عید مبارکي وايي!**

د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر، د نېکمرغه فطر عید د رارسېدو له امله، له کابل څخه تر حرمینو شریفینو، له کندهاره تر بیت المقدسه او له هراته تر اسلامبوله ټول اسلامي امت ته د زړه له کومي مبارکي وايي او الله سبحانه وتعالی ته د دعا لاسونه لپه کوي، ترڅو د ټولو مسلمانانو روژې، لمونځونه، قیام، طاعات، عبادات او صدقې په خپل دربار کې قبولې کړي.

عید د خوشالۍ، شکر ادا کولو او د دوستانو او عزیزانو د بیا لیدلو ښکلی فرصت دی، مګر په افغانستان کې د عید لمانځنه بل حال او هوا لري؛ ځکه جنګ او بې امنۍ، فقر او بیکارۍ او د بیو لوړوالي د خلکو ژوند خورا تریخ کړی دی. امریکایي بې پیلوټه الوتکې په عید کې د مرګ او وحشت نغارې غږوي او کلي - کورونه له خاورو سره خاورې کوي. فحشا د فاسدو چارواکو په ورځنۍ سوداګرۍ بدله شوې. جنایي جرمونه د ټولنې د هر فرد ژوند تهدیدوي. د معتادانو لښکرو د ښار شپې د خوځنده مړو په محشر بدلې کړې دي. دغو ټولو نادودو د ډیموکراتیک نظام او امریکایي اشغال تر سیوري لاندې د افغاني ټولنې لمن نیولې ده.

بل پلو د "سولې پروسه" داسې ستره او مهمه ښودل کیږي، چې د ټولو دردونو علاج او د ټولو ناورینونو پای له همدغې پروسې سره تړلی دی؛ په داسې حال کې چې له څو ځلو خبرو اترو وروسته دا جوتیږي چې امریکا د سولې له غولوونکې سرلیک لاندې هڅه کوي ترڅو د افغانستان په راتلونکي کې خپل رول او نفوذ خوندي کړي او غواړي خپلو اتباعو او نړیوالو ته داسې وښيي چې موږ د امریکا د تاریخ د تر ټولو اوږدې جګړې د پای ته رسولو په هڅه کې یو، حال دا چې امریکا د خپلې سیاسي او نظامي ستراتیژۍ د ناکامۍ او ضُعف له امله د سولې خبرو اترو ته مخه کړې ده. په واقعیت کې سوله بل هغه تکتیک دی چې امریکا غواړي د هغې له لارې د افغانانو افکار له مشروع او بنسټیزو حللارو څخه نامشروع او موقتي حللارو ته واړوي او د خپلې ماتې او ناکامۍ د جبران لپاره نور وخت واخلي.

پورتنیو ټکو ته په پام، هغه وخت د عید سمه لمانځنه کېدای شي، چې اوسنی نامشروع واقعیت چې د امریکایي استعمار او ډیموکراتیک سیاسي نظام زیږنده دی، د نبوت پر منهج د راشده خلافت په بیا تاسیس او د شریعت په هراړخیز تطبیق سره بشپړ بدل شي. ان شاء الله لیرې نه ده چې راشده خلافت به د ډیموکراسۍ پر تابوت وروستۍ مېخ ووهي، ترڅو نه یوازې افغانان بلکې ټول نړیوال به د امریکایي ډیموکراسۍ له شر څخه خلاصون ومومي.

**وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ بِنَصْرِ اللَّهِ** [الروم:4-5]

*او په هغه ورځ به مؤمنان د الله د نصرت له امله خوشالېږي.*

**د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**